Bundesamt
für Migration
und Flüchtlinge

# د ادغام کورسونه

(د اوسیدو قانون د § 43 مادې مطابق)

PASCHTU




Integration



د ادغام کورس د ایالتي دولت لخوا یو بنسټیز وړاندیز دی چې پدې کې د کډوالو لپاره د ژبې او سیاسي تعلیم شامل دی

## د ادغام کورسونه

د ادغام کورس موخه د کډوالو ادغام او ټولنیز ګډون هڅول دي او هغوی ته دا وړتیا ورکول دي چې په خپل ورځني ژوند کې خپلواک عمل وکړي.

## ګډون او لګښتونه

هغه کډوال چې په آلماني ژبه خورا لږ پوهیږي یا هیڅ نه پوهیږي، هغوی د ځینې شرایطو لاندې کولی شي د ادغام کورس کې ګډون وکړي. که دغه شرایط پوره شي، تاسې به د ادغام کورس کې د ګډون کولو لپاره د استحقاق تصدیق ترلاسه کړئ.

د ادغام کورس کې د ګډون لپاره په لګښتونو کې باید ونډه تادیه شي. په ځینې شرایطو کې، د مثال په توګه که تاسې د وزګارۍ مرستې یا د تابعیت مرستې ترلاسه کوئ، تاسې کولی شئ د لګښت ونډې څخه د معاف کیدو لپاره غوښتنه وکړئ. که تاسې د لګښتونو تادیه کولو څخه معاف شئ، د سفري لګښتونو اړوند سبسایډي هم امکان لري.

د ادغام کورس کې د ګډون کولو لپاره د شرایطو او لګښتونو په اړه نور معلومات د کډوالۍ او مهاجرینو لپاره فدرالي دفتر ویب پاڼه کې موندلی شئ:

**www.bamf.de/integrationskurse-teilnahmekosten** ↙

## د کور مینځپانګه

د ادغام هر کورس کې یو د ژبې کورس او یو د ادغام کورس دی.

### د ژبې کورس

د ژبې کورس د آلماني ژبې شفاهي او لیک مهارتونو ښوونه باندې د عام اروپایی کاري چوکاټ مآخذ (CEFR) د B1 سطحې ترلاسه کولو پورې تمرکز لري. دا د ژبې یوه ابتدایی او یوه عالي کورس باندې ویشل شوي دي. د ورځني ژوند مهم موضوعات پکې سپړل کیږي، لکه کار، تعلیم، پیرود، روغتیا او استوګنه.

### د لارښوونې کورس

د لارښوونې کورس کې د آلمان فدرالي جمهوریت قانوني سیستم، کلتور او تاریخ په اړه ښوونه کیږي او همدارنګه د یوځای ژوند کولو ډولونه او ارزښتونه ښودل کیږي چې په آلمان کې مهم دي.

## د کورس ډولونه

سربیره په

- د عمومي ادغام کورس

د ځانګړي اړتیاو لرونکي خلکو لپاره د ادغام ځانګړي کورسونه په پام کې نیول شوي دي:

- د ځوانانو د ادغام کورسونه
- د دوهمې ژبې د زده کړې کورسونه
- د والدین یا د ښځو د ادغام کورسونه
- د سواد کورسونه
- د ځانګړې اړتیاو لرونکي خلکو لپاره د ادغام کورسونه
- د معیوبیتونو او اختلال لرونکي خلکو لپاره د ادغام کورسونه
- متراکم کورسونه

# طرزالعمل

## د سويی ازموينه

د ادغام کورس د پيل څخه مخکې، ټول ګډون کونکي د سويی ازموينه ورکوي. د ازموينې د پايلو له مخې، اړوند نفر د کورس ټاکلې بيلګه مشخص کيږي او که لازمي وي د ادغام ځانګړي کورس ته معرفي کيږي.

## د کورس موده

د ادغام عمومي کورس 700 واحده* دوام کوي. لدې څخه 600 واحده (UE) د ژبې کورس لپاره دي (300 واحده (UE) د ابتدايي او 300 واحده (UE) د عالي کورس (لپاره او 100 واحده د لارښوونې کورس لپاره دي. د ځانګړي ادغام کورسونه تر 1,000 واحده (UE) پورې هم دوام کولی شي. د زده کړې ښو وړتياو لرونکي خلک همدارنګه کولی شي د ادغام کورس د متراکم کورس په توګه د 430 ښوونيز واحدونو سره بشپړ کړي.

## اخرنی ازموينه

د ژبې کورس بشپړيدل د "کډوالو لپاره د آلماني ژبې ازموينې" (Deutsch-Test für Zuwanderer) په نوم د ژبې ازموينه کې د ګډون په واسطه جوت کيږي. دا ازموينه په برياليتوب سره تيريږي کله چې ازموينه د B1 سطح کې بشپړه شي. د لارښوونې کورس "په آلمان کې ژوند کولو" (Leben in Deutschland) ازموينې سره بشپړيږي. که په دواړه ازموينو کې پايله بريالی وي، ګډون کونکي د "ادغام کورس تصديق" (Zertifikat Integrationskurs) ترلاسه کوي.

*UE = ښوونيز واحد (45 دقيقې)

د ژبې کورس په پای کې د "کډوالو لپاره د آلماني ژبې ازموينه" (Deutsch-Test für Zuwanderer) ده.



## د ادغام کورس ومومئ

تاسي کولی شئ د ځایی لټون فعالیت سره وړاندې کیدونکي د ادغام کورسونو عمومي لیدلوری دلته ومومئ:

bamf-navi.bamf.de

## د داخلې لپاره غوښتنلیک

دلته تاسې د ادغام کورس کې د داخلې لپاره د غوښتنلیک لپاره فورمې مومئ:

www.bamf.de/integrationskurse
د "غوښتنلیکونه او معلومات پاڼې" (Anträge und Merkblätter) لاندې

دلته تاسې کولی شئ آنلاین د ادغام کورس لپاره غوښتنه وکړئ:

verwaltung.bund.de

د ادغام کورسونه د ځایی سازمانونو لخوا وړاندې کیږي او د BAMF لخوا تمویل کیږي



# نور معلومات

د ګډون کونکو لپاره:
**www.bamf.de/integrationskurse**

د پوښونکو لپاره:
**www.bamf.de/ik-traeger**

د ښوونکو لپاره:
**www.bamf.de/lehrkraefte**


## د چاپ تفصيلات

**خپرونکی:**
Bundesamt für Migration und Flüchtlinge
90461 Nürnberg

**اپډیټ شوی:**
08/2023

**چاپ:**
Druck- und Verlagshaus Zarbock GmbH & Co. KG, Frankfurt/Main

**خپرونکی:**
MediaCompany – Agentur für Kommunikation GmbH



**د انځور حقونه:**
S. 1, 2, 5 © Bamf/Bildkraftwerk/Thomas Geiger
S. 4 © AdobeStock/smolaw11



**د غوښتنې انتخاب:**
Publikationsstelle Bundesamt für Migration und Flüchtlinge
www.bamf.de/publikationen


تاسې همدارنګه کولی شئ دا خپرونه د لاسرسي وړ PDF سند په توګه هم ډاونلوډ کړئ.


دا خپرونه د کډوالۍ او مهاجرينو لپاره د فدرالي دفتر لخوا د دې د عامه اړيکو کار د برخې په توګه خپره شوې ده. دا خپرونه وړيا ورکول کيږي او د پلور لپاره نده.


زموږ څخه دلته ليدنه وکړئ

www.facebook.com/bamf.socialmedia
@BAMF_Dialog
bamf_bund
www.bamf.de

Other Language
www.bamf.de/publikationen